# مختار الدوله

د احمدشاه بابا د دربار لوی وزیر یا صدراعظم په شاه ولیخان اشرف الوزراء مشهور دئ، چې اصلي نوم ئې بګي خان ؤ. دا سړی د ابدالي پښتنو څخه د پوپل په قبیله کښي د ملک بامی له اولادو او بامیزو څخه ؤ، چې د ده یو نیکه ملک صالح د ۹۵۰ ه په شا وخوا کښي د مشهور ملک سدو وروور ؤ او د دغه سدوخان له اولادې څخه پښتانه سدوزائیان پیدا سویدي چې احمدشاه بابا او د ده اجداد ټول د سدو له پښته دي.

لکه سدو زائیان چې له ملتانه تر هراته د پښتنو حکمرانان وو، دغسي هم د ملک صالح بامیزي کورنۍ لوي خلک وو، او په دوي کښي د بګي خان مرکز هغه کلاوه چې اوس ئې پر ځاي باندي د دهلې د ارغنداو ډم جوړ سویدئ او دا اوس د ده په نامه شاه ولي کوټ بلل کیږي. اشرف الوزراء شاه ولیخان ډیر زامن اولویه کورنۍ درلوده چې مشر زوي ئې حافظ شیر محمد خان نومېدی، او دی هم په اشرف

الوزراء مختار الدوله مشهور و او دې کورنۍ تر احمدشاه بابا را وروسته تر اوله جنګه پوري په اکثرو سیاسي واقعو کښې له کشمیره تـر هراتـه برخه درلوده او د مختارالدوله یوه خور د شهزاده سـلیمان د احمدشـاه بابا د زوي مانینه وه او کله چې تیمور شاه په ۱۱۷۶ ھ د احمدشـاه بابـا تر مرګ وروسته په کندهار کښې پر تخت کښینوست نو د بکوا په دښت کښې شاه ولیخان وواژه سو، او حافظ شیر محمد خان د خپل پـلار تـر مرګ وروسته په کلات کښې د بلوڅو پادشاه نصیرخان ته پناه یـو وړه، مګر وروسته بیرته راغی او په دهله کښې ئې په پدري کلا کښې سکونت کاوه، له درباره او سیاسته څخه لیري وُ، او په چائې کار نه درلود.

په ۱۲۰۷ ھ کال شاه زمان دخپل پلار تیمور شاه تـر مـرګ وروسـته دافغانستان پادشاه سو او شـیرمحمدخان تـه ئـې د مختـار الدولـه لقـب ورکی، او دی ئې خپل وزیر مقرر کی. تـر دې وروسـته نوګـورو چـې مختار الدوله په سند، کشمیر، خراسان، کابل او ټـول مملکـت کښـي مشهور سپه سالار او اداره چي او لوي وزیر دئ، او د افغاني دربار څخه د مختارالدوله په نامه لوړ اختیارات لري، او مهم کارونـه اجـراء کـوي.
مثلاً: په ۱۲۰۸ ھ کال میر نصیر خـان د بلوڅـو خـان مـړ سـو، او میـر محمود خان د هغه کشر زوي ئې پر ځاي کښېنوست مګـر دده یـو بـل رقیب میر بهرام خان د محبت خان بلوڅ زوي راولاړ سو، او د کچهي سیمه ئې ونیوله. میـر محمـود خـان لـه افغـاني دربـاره څخـه کومـک وغوښت، محراب خان او اخوند ملا فتح محمد خان خپل وزیـر ئـې د شاه زمان دربار ته را واسـتول ځکـه چـي نصـیرخان د احمدشـاه بابـا دوست او ملګري وُ، او ده هم د افغاني شهنشاهۍ تر سیوري لانـدي پـر بلوڅو باندي پادشاهي کوله، نو افغاني دربار دده د خلف میـر محمـود ملاتړ لازم وګاڼه، او له شاه زمان له درباره مختارالدوله شیرمحمدخان د

دوو زرو سپرو په سالارۍ د بلوڅو سیمي ته مقرر سو، چې هلته ئې میر بهرام خان ته ماته ورکړه او میر محمود ئې د کلات پر تخت کښېناوه او وروسته ئې دی له ځانه سره د شاه زمان دربار ته راوستي. او په دې ډول ئې دافغاني دربار سیادت پر کلات باندي وساته.

د مختارالدوله بله جنګي کارنامه داوه ، چې په ۱۲۱۱ هـ په پنجاب کښي سیکهانو بغاوت وکی او ځکه چې دا خاوره دافغاني شاهنشاهۍ یوه برخه وه نومختارالدوله د پنجاب د تصفیې لپاره لاهور ته ولاړ، شیخوپوره ئې ونیوله او د سیکهانو بغاوت ئې ختم کئ.

لکه په بلوڅو او پنجاب کښي چې مختار الدوله دافغاني دولت سیادت ټینګ کی دغسي هم د مملکت د غربي خواووته متوجه سو.

په ۱۲۱۲ ه کال آقا محمد قاجار په خراسان کښي تکړه سو په دې وخت کښي د نادر افشار لمسیان عباس میرزا او نادر میرزا دشاهرخ زامن په مشهد او خراسان کښي دافغاني دربار له خوا مقرر وُ او د احمدشاه بابا له سیاسته سره سم د افغاني دربار له خوا حمایت کېدل.

کله چې آقامحمد خان قاجار پر دوی باندي غالب سو نو دغه شهزاده ګان په غاو افغاني دربار ته راغلل، مختار الدوله دافغاني لښکرو سره دوي بیرته مشهد ته بوتلل، او د خراسان حکومت ئې دوي ته وسپاره. د شاه زمان تر ړندولو وروسته په افغانستان کښي خانه جنګي ولوېده څو چې آخر شاه شجاع د تیمور شاه بل زوي پادشاه سو، نو شاه شجاع د مختارالدوله له ډېره نغوذه څخه وترهیدی، او په ۱۳۲۲ ه کال ئې دی د کشمیر په حکمراني مقرر کئ او بیائې دده زوي عطاء محمد خان هم کشمیر ته ور واستاوه.

دلته د شاه شجاع د دربار او مختار الدوله تر منځ اختلاف ولوېده، چي متاسفانه په دغه اختلاف کښي پخپله یو تجربه کار اوبریالی وزیر لکه

مختارالدوله هم له منځه ولاړ او افغاني دربار هم خورا لوي تاوان وليد او هغه داسي وو، چي په پېښور کښي شهزاده قيصر د شاه زمان زوي ياغي سو، او مختارالدوله ئې هم ملګري وکړه.

شاه شجاع له کابله د خپله لښکره سره پېښور ته رهي سو، د پېښور شمالي خواته ئې د تهاکال د جعفرخان په کوټ کښي دخپل وراره شهزاده قيصر سره جنګ وکئ، چي په همدغه جنګ کښي مختارالدوله او دده ورور حاجي ميراحمد خان په ۳ د مارچ ۱۸۰۸ م ( ۱۲۲۳ هـ ) ووژل سوه او دافغاني دربار يو تکړه او فاتح سپه سالار او اداره چي کوونکی له منځه وووت.

مختارالدوله د خپل عصرمؤرخانو ښه پېژانده د تاريخ حسيني مؤلف چي معاصر ئې دی ددہ په باب کښي داسي ليکي :

" اشرف الوزراء مختارالدوله حافظ شيرمحمدخان بهادر پسر اشرف الوزراء شاه وليخان بهادر باميزائی مرحومست ودرزمان حضرت تيمور شاه مغفور مبرور، بعد کشته شدن پدر خود، باحوال غربا درگوشه بسر ميبرد. چون خاقان زمان بر سرير سلطنت جلوس فرمود، شيرمحمدخان ممدوح را به خطاب مختارالدوله به اعلی رتبه وزارت سرفراز ساخته سردار کل ايلات درانيه فرمودند.

او مرديست خداترس، رعيت پرور، خوش خلق، شيرين گفتار سخي. مردم دور دست با وصف ناديدگي ثنا خوان اوهستند اما از مکر وحيله عاريست. بنا بر آن د رامور مالي وملکي چندان دخل ندارد. درانيان بسيار باو رجوع دارند، وفادار خان ( وزير رحمت الله خان مقتول ۱۳ ربيع الاول ۱۲۱۶هـ ) نيز بظاهر بپاس خاطرش ميکوشد." (نسخه خطي تاريخ حسيني) مختار الدوله پنځلس تکړه او فعال وروڼه درلودل چي يو دوست خان اعتماد الدوله اوبل نظام الملک گل

محمدخان د کندهار حکمران وُ، دده له زامنو څخه غلام محمدخان د اټک حکمران وُ، چې لور ئې د غازي وزير اکبر خان ماينه وه.

د مختار الدوله اودده دکورنۍ بقايا تر اوسه په کندهار اوکويټه او د محکوم پښتونستان په ډېرو ښارو کښې پاته دي دده نوم په اکثرو تاريخي کتابو کښې لکه : تاريخ بلوچستان، تاريخ حسيني، واقعات شاه شجاع، سراج التواريخ، تاريخ سلطاني، تاريخ احمدشاهي او نورو کښې ذکر کيږي اوکله چي مستر الفنستون د شاه شجاع دربار ته په پېښور کښي را ځي نو دی پخپل کتاب کنگ ډم آف کابل کښي هم د شيرمحمدخان صفات او احوال ليکي.

د ميرزا عطاء محمد شکارپوري د "نواى معارك" څخه ښکاري چې مختار الدوله دکابل د يوه روحاني مقتدر سړى ميرواعظ سره ټينگه رابطه او دوستي درلوده او د شاه شجاع په دربار کښي هم معتبر وُ، او د دغه پادشاه د ۱۲۲۱ هـ د سنده په سفر کښي هم ورسره ملگري وُ. مگر دده په غياب کښي دشاه شجاع په اشارت دغه ميرواعظ دکابل په بلوا کښي وواژه سو، اوکله چي مختار الدوله کابل ته راغی د ميرواعظ په مرگ ډير متاثر سو، او دغه واقعه وه چي د وزير او پادشاه تر منځ اختلاف ولوېد، اونتيجه ئې د دواړو بربادي و.

د تاريخ واقعي که څه هم ډيري د افسوس وړي وي، مگر لوستنه ئې د عبرت لپاره ضروري ده د احمدشاه بابا لويي شهنشاهي خو د اشرف الوزراء شاه وليخان په همت او تدبير رونق موندلی وُ خو دده مرگ تيمورشاهي دولت ضعيف کی اما د مختار الدوله مرگ د پېښور د تهاکال په جنگ کښي او دېرش کاله بعد هم داسي

ناوړه پېښه وه چې د د شاه شجاع دولت ئې په خانه جنگۍ کښې له مخه ويوست او پر افغانستان باندې يوه بده دوره راغله چې نتيجه ئې اول جنگ او د مملکت ورانی او بربادي وه.(۱)

(۱) د مجلې د لومړي او دوهم مخ د نه درلودلو په خاطر د ماخذ يادونه ونه سوه.